# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

**AA-AA**

*چو کشور نباشد تن من مبـــاد　　بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد*

*همه سر به سر تن به کشتن دهیم　　از آن به که کشور به دشمن دهیم*

www.afgazad.com　　afgazad@gmail.com

| سیاسی | Political |
| --- | --- |



امین بسمل


۰۸ اپریل۲۰۱۲

# زموږ نجات

ماښام راسوځي شپه راسوځي شین سهار راسوځي
غرمه اوزېړمازدیګری هم دا غدار راسوځي
راغلل جامو کې دملیار چې زموږ وطن کړي سمسور
چمن راسوځي بڼ را سوځي لاله زار راسوځي
دلته راغلي ګورګښان په مرستیالي لباس کې
کلي باندې یې کړل رالوټ اوس کوهسار راسوځي
هغه چې میندو پکې راوړل اتلان نړۍ ته
د لر اوبر دزړګي سر لوی کندهار راسوځي
زړه مې ترق چوي شهیدان دزنګاوات چې کړم یاد
غرېو مې مرۍ ونیسي اه مې دزړه ښار راسوځي
هم دبابا ولي زیارت هم چهل زینو په سرکې
سلګۍ مې واخلي زه وېرېږم شامزار راسوځي
د میرویس خان په مېنه اوربل دی لا نه یې وینځ
اهریمن سرې لمبې راوړې نوبهار راسوځي
پایلوځو پاڅۍ یو ځل بیا له ګوره سر راجګ کړۍ
ستاسو په چم کې سره ګلونه دګلزار راسوځي
ارغنده ته ولې ویده یې غوړمبهار د څه شو
هلمنده لاس ورکړه پکتیا او ننګرهار راسوځي
ته سوله ماتې سوله ساتي بولې ړونداو کوڼ شې
ته یې لا نه وینې زرین تاریخ د پلار راسوځي

هم يې له ستوني يو نيولي هم ځان دوست رابولي

خيبر به وران کړي په ولله بيا به مزار راسوځي

له کربښې داخواخواجوړپه پښتنو محشر دی

سوات پېښور يې کړل راوران پاړه چنار راسوځي

دابدالي زور يې ليدلی وار له موږه اخلي

دا دګورګين بچوني ګورئ زموږ وقار راسوځي

ډېوې يې مړې کړې دمحفل نغمې خاموشې سولې

شهباز په ګوتو کې سا ورکړله ستار راسوځي

شېخ د شيطان تر وزرلاندې جنتونه غوښتل

کورته يې راوست هم مو ننګ هم افتخار راسوځي

موږ تودول خپلو لستونو کې ځانو ته ماران

اوس مو دا دنګ پښتانه لکه چنار راسوځي

زموږ نجات بسمله زموږه په يووالي کې دی

که يو لاس نه شو نن کنړ سبا تخار راسوځي

ماښام راسوځي شپه راسوځي شين سهار راسوځي

غرمه اوزېړمازديګری هم دا غدار راسوځي

http://www.youtube.com/watch?v=Cy0cuiWFNXk&feature=related

زموږ نجات.doc